# د پښتو لوی سیند به څنګه لیکل کیږي؟

له ډېره وخته د پښتو د ژوندۍ کولو لپاره فکرونه کیږي، ځیني اشخاص په شخصي ذوق، او ځیني په رسمي ډول په دغه کار بوخت دي، او تر اوسه پوري ځیني کارونه هم د پښتو لپاره سویدي، چي د هغو په ګټورتوب کي شک نسته، مګر خبره دا ده چي کوم کار په کوم وخت کي باید وسي؟

د ژبي ابتدایي ضرورت کوم. او که لومړني ضروریات نه وي پوره سوي نو نهایي کارونو ته لاس اچول، د وخت ضیاع او د فعالیت بې ځایه مصرفول نه دي؟

مثلاً که یوه ژبه د تدریس ابتدایي کتابونه د علم او عصري تجربو پر اساس برابر ونه لري، نو په دایره المعارف لیکلو ګوتي پوري کول تر وخت دمخه کار دئ.

د پښتو لپاره چي تر اوسه کوم فرهنګونه په داخل یا خارج کي لیکل سویدي پخپل نوبت هر کار غنیمت دئ، مګر د پښتو یو جامع او حاوي قاموس نلرو چي د ژبي ټول مواد په عصري توګه پکښي راټول سوي او شرح سوي وي. په اوسنی زمانه کي لکه چي د نورو کارو لپاره عصري او مترقي لاري او چاري پیدا سویدي، د ژبي د سیندونو لیکنی لپاره هم دغسي علمي او تحقیقي او ګټوري لاري غوره سوي دي او اوس د ژبي پر لغوي محقق د السامی فی الاسامی یا صراح او غیاث په ډول لغوي کتابونه نه لیکي، بلکي د

نوي علم او پلټني او څېړني په رڼا کې په هغه ډول فرهنګونه او سيندونه ليکل کيږي، چې په نهايي ډول لوستونکو ته ګټور وي، او د ليکني اساس يې د اوسني علم او تحقيق پر بنياد اېښو سوى وي.

اوس که څوک يوه عصري قاموس ته د يوې کلمې د پوهېدلو لپاره رجوع کوي نو هغه قاموس د کلمې تاريخچه او د استعمال مختلف تاريخي تحولات هم ورښيي او د ريښو اشتراک يې د نورو همرېښه ژبو سره څرګند وي او دا ښکاره کوي چې د کلمې ريښه **چيرې ده؟ او له کومه ځايه را زېږېدلې ده او د لفظي او معنوي تحول مراتب يې کوم دي؟**

**دا کار که څه هم خورا ګران او مشکل دئ مګر مفيد او د ارزښت وړ هم دئ، او ښايي چې د يوې علمي ټولني له خوا د ژب پوهاندانو او متخصصانو او اديبانو او ليکوالو په ګډه سعيه سره وسي.**

**د پښتو په دغه لوی سيند کې بايد دغه لاندې ولې وبهيږي:**

١. **د پښتو خپل سوچه لغتونه او هغه کلمات چې سپېڅلي ګڼل کيږي لکه: آس ـ اوبه ـ رغ ـ لور ـ غټ ـ بګ او نور**

٢. **مغننات او دخيل کلمات چې د نورو ژبو څخه په ظاهري يا معنوي تغيير راغلي وي لکه: آسمان ـ وخت ـ کميس ـ سبا او نور**

٣. **د فارسي يا هندي ژبو سره مشترک کلمات لکه: سيب ـ درخته ـ هتی ـ ببل ـ کړی چې دغسي کلمات په شرقي پښتو د هند له خوا او په غربي پښتو د فارسي او دري له خوا راګډ سوي او داسي ډېر پېژندل او استعمال سوي دي، چې اوس يې د پښتو تابعيت قبول کړئ دئ او د ادب جزو ګرزېدلي دي.**

٤. **د ژبې مصطلحات او محاورې او مخصوص تعبيرونه او ترمونه لکه: مال اوبه کول، خوله پرېکول، غوږ ايسوول،**



پښې پسي لځول، لاس ځيني اخيستل، خاشې پکښي ماتول، پليته پسي اخيستل او داسي نور.

٥. مصادر، د فعل نومونه، روابط، ادات، حروف، لواحق، ضماير، اصوات، مرکبات، سوابق، مشتقات، لکه کول، کړنه، په، د ـ ته چا ـ څوک ـ څه ـ څخه ـ ځني ـ من ـ ن ـ پړې ـ خوړلی ـ شړلي ـ شړونکي ـ ببوونکی ـ تون ـ ځی ـ پرتوګانې ـ (پرتوګ + وانې) مزغاړئ (مزی + غاړی) يا اصوات لکه: شر ـ بغ ـ غړ او نور

٦. د پښتو مخصوص اعلام او نومونه لکه: مسری خان ـ ريدی خان ـ ببرک ـ زمرک ـ هوتک ـ بارک ـ پوپل ـ زدراڼ او نور.

٧. د پښتو هغه مهجور او متروک مواد چې پخوا مستعمل وو، او اوس نه ويل کيږي، لکه: اتل ـ غبرګون ـ مزدک ـ لرمز ـ برمل ـ ويرنه ـ پارکی او نور.

٨. د پښتنو په غرونو او قبيلو کي چې کوم خاص خاص او نادر لغات مستعمل دي مګر نور پښتانه يې نه وايي، لکه: پمبی (آخور) مزدک (مسجد) زغنجر (مريض) بشپړ (کامل) بڼه (رنګ چهره) جوله (قيافت و ساختمان روی) کاوړ (قهر) او نور په زرو داسي لغات چې بايد په ډېره استقصاله غرو او رغو او قبيلو څخه راټول او په علمي توګه ضبط سي.

٩. ځيني داسي لغاتونه چې فقط په يوه خاصه ډله کي ويل کيږي لکه د کندهار ښځي چې د تعجب پر ځای وايي: يو (په اوله ضمه او معروف واو) يا کوچنيان چې وريجې ممی بولي (په دوه زورکيه) يا پښوريان چې هډو کلمه ډېره استعمالو (په اوله فتحه او دوهمه ضمه او مجهول واو) يا خودښکه چې کندهاريان يې د قسم او تهديد لپاره وايي هغه هم بعضي خلک

په دې ډول باید د ژبې گرده لغتونه په خورا دقت او احتواء او جامعیت سره راټول کړل سي، مگر دغه ضبط او راټولول هم تر خاصو شرطونو لاندي کېداى سي، چي عمومي شرايط يې دا دي :

۱. د لغاتو حرکات او صوتي خصايص په بين المللي مکمله املاء ضبطول، چي بيا يې لوستونکي ته صحيح تلفظ کول آسان وي، او په هغه ډول يې وويلاى سي، چي پښتانه يې پخپله لولي، مثلاً ښه د مخ رنگ ته هم وايي، او د مرغه ښې (پر) ته هم وايي، مگر په حرکت او اداء کې فرق سته، اوس موږ کله اروو، چي پښتانه نطاقان هم د دغو دوو کلمو فرق نه سي کولاى، دا ځکه چي په سيند کي د دغو دوو کلمو د تلفظ او آواز فرقونه نه دي ضبط کړي، او دا فقط په بين المللي غوره املاء سره کېداى سي.

۲. د لغاتو او کلماتو گرامري هويت او کيفيت باید وښودل سي، لکه : اسم، فعل، صفت، ادات، جمع، مفرد، تانيث، تذکير او نوري ضروري دستوري اشارې.

۳. په ژبه کي د استعمال مختلف موارد، مثلاً هيواد ليري ځاى، يا د مملکت او وطن په مختلفو معناو کي، د ادبي شواهدو سره، يا ښه د قرار گاه او کور يا د وطن په معنا يا لاس د دست او قدرت او قوت په معنا.

۴. د لغاتو د معنوى تغيير موارد، مثلاً د عربي جماعت چي په پښتو جومات سو، دلته له هغي اصلي معنا څخه ځنگه د مسجد په معنا تغيير ورپېښ سو. يا صاحب چي په عربي کي د صحب له مادې څخه د صحبت کوونکي په معنا و، مگر پښتو ته (ساب) په تلفظ په معنوي تغيير را وارد سو، چي د احترام او درناوي کلمه ده.



۵. لغات او کلمات په مختلفو محاورو اولهجو کي ځنگه مستعمل دي؟ مثلاً د کندهار په محاوره کي کوچني يا وړوکى د طفل په مفهوم عام دئ، حال دا چي په شرقي لهجو کي ماشوم ورته وايي، نو آيا دا کلمه له عربي معصوم څخه مغفنه ده؟ که پخپله اصيله پښتو ده؟ دا د لغوي څېړونکي کار دئ چي دغسي مطالب په علمي نظر وڅېړي.

٦. د پښتو ډېر کلمات ادبي استعمال هم لري، او د ادب په کتابو کي په نظم او نثر کي استعمال سوي دي داسي کلمات باید د ادبي شواهدو سره مستند وليکل سي، مثلاً د هيواد کلمه د ليري ځاى په معنا :

موږ له هيواده تنها راغلي يو
د بڼ توتيان يو په دام وتلي يو

(پيرمحمد کاکړ)

۷. د لغت ريښه معلومول او د مقايسوي فيلالوژۍ له پلوه يې تحقيق او که ممکنه وي د کلمې تاريخي تحول د معنا او لفظ له پلوه ښوول.

۸. د مغفناتو او دخيلو کلماتو اصل ښوول، او هغه په تحقيقي ډول مطالعه کول. مثلاً : سدرۍ له عربي کلمې صدرۍ څخه مغفنه کلمه نه ده، بلکي ريښه يې زردشتي قديمه کلمه سدره ده، تپوس له عربي تفحص څخه نه دئ راغلی، بلکي د تپ ــ تپا ــ تپېدل له ريښې "پښتو د لغاتو د جوړښت سره سم جوړ سوئ دئ (؟)، ښاغلی شاه قلي نه دئ، بلکي ښه + آغلی او پښتو لغت دئ.

۹. د کلماتولهجوي مختلف اشکال او مرادفات ښوول، او هغه خپل اصل ته رجوع ورکول، مثلاً : ښه خپه ــ ژبه ــ جبه ــ زبه يا څمکه مځکه چي اصل يې ځمکه ده.

تر دغو شرايطو لاندي بايد د پښتو غټ سيند وليکل سي او دا نو خود د ژبپوهني علم ـ کتابونه ـ او د اصواتو د تجزيې وسايل او نور ډېر عصري لوازم غواړي، چي ليکونکی يې بايد پوره مجهز وي.

اوس به زه د مثال په ډول د يوې کلمې د ضبط شرايط لاندي وليکم :

اوبه :

۱. تلفظ او حرکات : د الف پېښ ـ معروف واو ـ د بې زورکی ـ آخر ساکن خج پر دوهم.
۲. اسم جنس : جمع مؤنث ـ په مجرور حال کي : اوبو
۳. معانی : آب ـ عزت و آبو ـ عصارهٔ ميوه ـ سيراب نور او نور
۴. اوستا : آپ ـ سنسکريت : آپه ـ پارسي : آپي ـ پهلوی : آپ ـ سغدی : آپ ـ دری : آب.
۵. محاورات : ـ اوبه کول : اب دادن بزمين ـ آب دادن بکسی ـ ابگين شدن جوی ـ مال اوبه کول : بفروش رسانيدن مال و غيره ـ خوله اوبه اوبه کېدل : از فرط اشتها دهان پر آب شدن. د مخ اوبه تويېدل : آبروی کسی ريختن. سره اوره او اوبه کېدل : اختلاط و سازگاری، اوبه اخيستل : کسی را بی آبرو ساختن. اوبه ورسره غلبلول : مدارا و روز گذرانی کردن. دغسي هم په سوو نور تعابير لکه : اوبه په خړول ـ اوبه په سترگو کي درېدل ـ اوبه په غاړه کي نښکارېدل ـ اوبه تر ورخ تېرېدل ـ اوبه تېرېدل ـ اوبه درول ـ اوبه درېدل ـ اوبه دم ورول ـ اوبه سرې کېدل ـ اوبه نه ورکول ـ تر اوبو وتل ـ تر اوبو ترې پوري يستل ـ تر اوبو دمخه گاولي کښل ـ د سترگو اوبو وتل ـ او نور ډېر متعلق اصطلاحات چي بايد د اوبو تر مادې لاندي په مستند ډول د ادبي او محاوري شواهدو سره وښوول سي.



۶. که کلمه کومه جغرافي يا تاريخي خوا هم ولري بايد هغه بيان سي، مثلاً : اوبه د هرات شرقي خوا په چشت کي يو ځای دی. عربو دا کلمه په اوفه معربه کړه (وگوری اصطخری) د دې ځای وجه تسميه هم مؤرخانو ذکر کړې ده، نو دا ځای له قديمه په پښتو نامه (اوبه) مشهور و. د دغسي کلماتو بل مثال اور دئ، د بغلان په ډېرليک او زړه دري کي (اير) وَ او بيا هير سو، چي په پهلوي هيربد کي سته، او په پنجهير کي هم ساتلی دئ، او په پښتو کي اوس په وزيري‌لهجه اير دئ.
۷. ځيني مغفنات او دخيل کلمات چي په ژبه کي مستعمل دي که هغه په ژبه کي خپله سپېڅلې پښتو کلمه ولري، هغه بايد د مغفن په شرحه کي هم وښوول سي، او بېلبله په خپل رديف کي هم راسي. مثلاً که موږ د کميس شرح وکړو چي له عربي کميس څخه مغفن سويدئ بايد دا هم وښيو چي په پښتو کي (خت) اصيله کلمه لري او بيا د (خ) په رديف کي د هغه شرح او د استعمال صورتونه او ادبي شواهد راوړو. دغسي دي سهار د سحر مغفن چي په مقابل کي پښتو گهيځ لري او نور داسي مغفنات خورا ډېر دي. (۱)

(۱) وږمه مجله، ۱۳۴۵ ل کال، ۱ ـ ۲ گڼي، ۱ ـ ۶ مخونه.